شریعت
SHARIAT WEEKLY

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال پنځلسمه گڼه پرله پسي (۳۰۲)چهارشنبه د۱۴۲۰ه ق کال د ذوالقعدة الحرام (۱۷)د۱۳۷۸ه ش کال د کب (٤)د۲۰۰۰میلادي کال دفبروری(۲۳)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

به اساس گزارش منابع مؤثق خبري :

مسعود ازهراس مخالفین خود در تاجکستان، فامیل خویش را ازکولاب به پنجشیر انتقال داد

چندي قبل موتر شخصي مسعود نیز از جانب مخالفین وي تلاشي گردیده بود

پنجشیر :قرار گزارش منابع مؤثق خبري از پنجشیر ، احمد شاه مسعود فامیل خود را که سال گذشته بخاطر حفاظت از خطرات احتمالي به شهر کولاب تاجکستان انتقال داده بود نسبت ازدیاد مخالفین و هراس از تعرض آنها فامیل خویشرا دوباره به پنجشیر انتقال داد.

گفته میشود که میان مسعود و چهار هزار فامیل ازهوا خواهان وي که در شهرکولاب شب و روز خود را سپري مي نمودند اختلافات شدیدي بروز نموده و هر آن احتمال آن میرفت تا برضد مسعود حملات علني صورت گیرد. چنانچه چندي قبل موتر شخصي مسعود از جانب افراد مسلح در نزدیکي اقامتگاه وي در کولاب توقف داده شده و تلاشي گردید که هدف افراد مذکور شخص مسعود بود.

اما شخص وي درموتر موجود نبود و ازین کمین، جان به سلامت برد.

اگر مسعود در موتر حامل خویش موجود مي بود احتمال زیاد میرفت که از طرف افراد مسلح مذکور ترور گردد.

بیست تن از افراد مسلح مخالفین به اردوي اسلامي پیوستند

۲۰ تن از افراد مسلح که قبلاً در صف مخالفین امارت اسلامي قرار داشتند درمربوطات ولایت تخار با نیروهاي امارت اسلامي یکجا گردیدند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد :بیست تن از افراد مسلح که قبلاً در صف مخالف امارت اسلامي قرار داشتند و به خاطر بر آورده شدن اهداف خصمانه وضد منافع علیاي مردم ما فعالیت داشتند با درك حقایق موجود و افزایش و ایجاد فضاي بي اعتمادي میان سران مخالفین در خط مقدم جبهه ده ویران همراه با سلاح هاي دست داشته شان به سرکردگي قوماندان نورالله در ولایت تخار با نیروهاي امارت اسلامي یکجا گردیدند این در حالیست که پیوستن قوماندانان و افراد مسلح آنان به امارت اسلامي روز تا روز ابعاد گسترده تري را به خود گرفته و پیوستن آنان به وضاحت نشاندهنده ایجاد فضاي بي اعتمادي و اختلافات ذات البیني میان سران مخالفین و انجام اعمال ضد انساني و ضد اسلامي از سوي آنان میباشد .

طي محفل شانداري در تالار رادیو صداي شریعت :

از قیام حماسه آفرین سوم حوت شهریان شهید پرور کابل تجلیل به عمل امد

قیام دلیرانه مسلمانان کابل در مقابل تانکهاي روسي از افتخارات تاریخي ملت مجاهد ما محسوب میگردد

خلقیان و پرچمیان مزدور نتوانستند تا خشم و انزجار ملت را خاموش سازند

به مناسبت سوم حوت روز قیام خونین و حماسه آفرین شهریان متدین کابل محفل با شکوهي از سوي وزارت اطلاعات و کلتور در تالار رادیو صداي شریعت تدویر یافته بود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در این محفل که به اشتراك محترم الحاج مولوي قدرت الله «جمال» وزیر اطلاعات و کلتور محترم مولوي محمد سلیم «حقاني» معین وزارت امر بالمعروف و نهي عن المنکر مسئولین و منسوبین ادارات امارتي، طلاب مدارس و جمع کثیري از شهریان کابل تدویر یافته بود ابتداء، ایات چند از کلام الله مجید توسط محترم قاري عبدالحق قرائت گردید بعداً محترم الحاج مولوي عبدالرحمن احمد هوتك معین کلتوري محترم مولوي رحیم الله زرمتي معین نشراتي وزارت اطلاعات و کلتور ، محترم محمد داود شبلي و محترم آیت الله تقدسي بالترتیب در رابطه به حماسه خونین سوم حوت شهریان کابل و عملکرد وحشیانه مزدوران حلقه بگوش روسها علیه قیام ظفر نمون مردم متدین وخدا پرست این مهد افتخارات ملت مجاهدمان سخنراني ص ٤

ذریعه طیارات «د آریانا افغان هوایي شرکت» :

اولین پرواز انتقال حجاج صورت گرفت

آژانس اطلاتي باختر خبر داد : در میدان هوایي بین المللي کندهار با حجاج محترم ملا محمد معصوم رئیس حج و اوقاف ولایت کندهار خدا حافظي دو صد و پنجاه تن حجاج دیروز توسط دو پرواز طیارات «دآریانا افغان هوایي شرکت» از میدان هواي قندهار به صوب جده حرکت کردند. ص ٤

فرمان عالیقدرامیر المؤمنین در رابطه به :

استقلال قوه قضائیه امارت اسلامی افغانستان

فرمان شماره ٦٤/١٦/١١/١٤٢٠ هجري قمري امارت اسلامي افغانستان

به تائید فتواي تاریخي ۲٤/۱۰/۱٤۲۰ هجري قمري علماي دارالافتاء، وتصویب شماره ٤۲٤ تاریخ ۸/۱۱/۱٤۲۰ هجري قمري ستره محکمه امارت اسلامي که در رابطه به استقلال قواي قضائیه امارت اسلامي بر مسائل شرعي بنا ، میباشد مراتب ذیل منظور است :

۱- قواي قضائیه امارت اسلامي در ردیف قواي اجرائیه یعني ریاست الوزراء، وسایر قوا ي دیگر رکن مستقل امارت اسلامي میباشد که امور مربوط ص ٤

په کاسووا کی نړیوال سوله ساتونکی پوځونه تیارسی شول

دکاسووا دمیتروویتسا په ښار کی نړیوال سوله ساتونکی سرتیری تیارسی کړی شویدی چی په دغه ښار کی دلاریات اوتربخوالی مخه ونیسی.

دناتو او دلویدیځو هیوادو مقامات دیوگوسلاویا په جمهور رئیس سلوبودان میلو سوویچ باندی تور لگوی چی په دغه ښار کی د وروستیو نا آرامیو ترشا ولاړ دی.

د دوشنبی په ورځ څه ناڅه پنځوس زره البانیایان هغه پله ته نږدی را ټول شول چی دمیتروویتسا ښار د صربیانو او البانیانو داوسیدو سیمه په دوه وو برخو ویشی. ٤ مخ

دپاکستان داسلامی جمهوریت او دمهاجرینو په چاروکی د م.م دعالی کمشنری هیئت کابل ته راورسید

دپاکستان داسلامی جمهوریت او دمهاجرینو په چاروکی د ملگرو ملتو دسازمان دعالی کمشنری گډ هیات پرون له غرمی وروسته کابل ته راورسید. دباختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه هیات چی دپاکستان ٤ مخ

په نایجریا کی اسلامی قانون پلی کیږی

د نایجریا په شمالی ښار کی د اسلامی قانون د پلی کولو د پریکړی له امله د را پیدا شویو فرقه یی نا آرامیو د آرامولو لپاره د هغه هیواد امنیتی پوځونو هم له پولیسو سره یو ځای پر ځای شوی دی لږ تر لږه پنځه ویشت کسان په دغو نا ٤ مخ

به سلسله جنایات نابخشودني قبلي :

دشمنان نظام اسلامی با کار گذاری ماین ها به جنایات شان می افزایند

انفجار ماین در حومه میدان هوایي الحمد لله تلفات جاني در قبال نداشت

دشمنان مردم افغانستان و نظام اسلامي در کشور در آخرین روز هاي حیات خویش که میخواهند سلسله جنایات و جرم هاي شانرا تکمیل نمایند شام روز گذشته در حومه میدان هوایي کابل دست به جنایت نابخشودني ص ٤

دومین سیمینار مرکز تحقیقات آسیب هاي رواني تدویر یافت

شریعت : دومین سیمینار مرکز تحقیقات آسیب هاي رواني تحت عنوان (مشکلات رواني خانواده هاي جنگ زده) دیروز در تالار سید جمال الدین افغان کتابخانه پوهنتون کابل تدویر یافت.

محفل با تلاوت آیات چند از کلام الله مجید توسط قاري گل نبي الفت آغاز گردید سپس محترم مولوي حمد الله «نعماني» وزیر تحصیلات عالي بیانیه افتتاحیه خویش را ابراد نمودند بعداً محترم گل رحمن «حکیم» استاد پوهنحي تعلیم و تربیه مقاله خود را پیرامون عوامل تاریخي جنگ و مشکلات دو دهه اخیر جنگ ، محترم معاون سر محقق فضل احمد «غروب» عضو اکادمي علوم ص ٤

په ایتالیا او سویس کی دواوری دښوییدولو له امله اته تنه ووژل شول

په ایتالیا او سویس کی دواوری دښوییدو د پیښی له امله د دوشنبی په ورځ څه ناڅه اته تنه ووژل شول چی اوه تنه یی الماني اتباع دی.لکه څنگه چي رسمی مقاماتو اعلام کړیدی دایتالیا په بوتسین کی دوه تنه المانیایان او یو تن ایتالوی تر واورو لاندی ووژل شول. او یو الماني توریست دهغو ټیپونو له امله چی ورته رسیدلی و په روغتون کی مړ شو. دسویس داوس ته نژدی پو الماني اودوه تنه سویسی اتباع ووژل شول.

طي سال جاري مبلغ ۸۰ ملیون افغاني جهت سرمایه گذاري انکشافي در کشور تخصیص داده شده است

جمعاً پلان اکمال ۷٦٦ پروژه جدید و احیایی زیر دست گرفته شده است

شریعت : در روشني پالیسي امارت اسلامي افغانستان در جهت احیاي مجدد اقتصاد ملي کشور با در نظر داشت امکانات مالي و تخنیکي دست داشته و شرایط کار در محلات و مناطق کشور متکي بر پیشنهادات وزارت ها و ادارات ، پلان سرمایه گذاري انکشافي امارت اسلامي افغانستان جمعاً به سطح ۸۰ ملیارد افغاني از منابع داخلي پیشبیني و ترتیب گردیده است که از طرف مقام محترم امارت اسلامي افغانستان منظور گردیده است که جمعاً ۷٦٦ پروژه انتقالي ، احیایي ، جدید و پروژه سازي را احتوا مینماید که نظر به پلان سرمایه گذاري سال ۱٤۱۹ حدود ۱۰ ملیارد افغاني افزایش دارد . محترم محمد معشوق آمر سرمایه گذاري ریاست طرح و توحید وزارت پلان در رابطه به موضوع فوق چنین معلومات ارائه نمودند :

جمعاً طي نه ماه حدود ٤۰ ملیارد افغاني در پروژه هاي ذیل که کار آنها جریان و بمصرف رسیده کار پروژه هاي مذکور به فیصدي متفاوت پیشرفته است .

پروژه هائیکه کار آنها ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د حوت د دریمی پاڅون او زموږ اوسنی مسؤلیتونه

زموږ په گران هیواد کی د روس مزدوری دلی تل په دی ارمان کی وی چی کله به د هغی ورځی ننداره کوی چی له خپلو روسی بادارانو سره یو ځای ، په یوه سنگر کی د خپلو مسلمانو هیوادوالو پر خلاف بنه کلک وجنگیږی او په دی لار کی له پریمانه روسی اورونو او باروتو کار واخلی ، هر ډول وسلی استعمال کړی او د هیواد د دیندارو پرگنو په وژلو او ځورولو خپل له کینی ډک زړونه بنه یخ کړی. دغو کړانو خپل یو ارمان هغه وخت پوره کړ چی د ۱۳۵۸ کال د جدی په شپږمه یی خپل انترناسیونالیستی انډیوالان په بدرگه له آمو راپوری ویستل او د کارمل غونډی شرمیدلی ځیره یی په کابل کی په جمهور رئیس ونوموله . کمونیستانو د شوروی اتحاد واکمنو ته ډیر داد ورکړی و چی گنی ټول افغان ولس یی را خپل او په دی قانع کړی چی ۲ مخ

دامریکا پوځی کارپوهان دماین پاکولو لپاره نوی لاری لټوی

دامریکا دمتحده ایالاتو پوځی کار پوهان دماین پاکولو په یوی نوی لاری باندی کار کوی چی د پخوانی اداری په نسبت ډیر گړندی او گړندی عمل کوی.

بوه امریکایی څیړونکی وویل دغه نوی عملیه په بوسنیا کی ازمایښت شویده ، ده وویل دماین پاکولو دغه نوی آله دهغوی پخوانیو الاتو په پرتله چی له دویمی نړیوالی جگړی وروسته یی ډیره کمه پرمختیا کړیده اوه ډیرش برابره چټک عمل کوی او دقیقه هم ده. ده وویل دری کاله نور په کار دی چی دماین پاکولو ددغی آلی پاتی نواقص لری او په پراخه توگه فعالیت ته چمتو شی.

دمنځنی ختیځ دسولی دخبرو په بهیر کی نوی تحرک رامنځته شو

په منځنی ختیځ کی داسرائیلو د صدر اعظم ایهود بارک او دامریکا دمتحده ایالاتو دځانگړی استازی دینس راس ترمنځ لیدنو کتنو او خبرو اترو دمنځنی ختیځ دسولی له ځنډسره مخامخ شوی بهیر ته نوی تحرک بخښلی دی.

ایهود بارک اعلام وکړ چی داردن دسیند په لویدیځو غاړو کی ځمکو دویش په سر اختلافونه به پایته ورسیږی خو داسرائیلو صدراعظم ویلی دی چی ٤ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مـرستیـال : غلام محمد «فاروق»
دبوې گڼې بيه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانی په پاکستان کی (٣) کلداری
پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

باید نور د شوروی اتحاد په مشری د کمونیستی بلاک تر سیوری لاندی ژوند وکړی خو دا خبره ښیخی دروغ او دوکه وه، که په هغه وخت کی شوروی‌انو د افغانی تاریخ څو پاڼی اړولی وای هم ډیر ژر به ورته جوته شوی وه چی افغانان هیڅکله هم د پردیو مریتوب نه شی منلای خو په هر صورت دوی په خپلو عملیاتو پیل وکړ او هر پلو یی د وژلو ، زندانی کولو ، ترور او اختناق بازار تود کړ ، شوروی سری لښکری د خپلو افغانی نوکرانو سره یو ځای په ټولو ولایاتو کی خوری شوی او په هر ښار ، کلی او بانډه کی یی داسی عام وژنی شروع کړی چی څوک یی کیسی هم د منلو نه بولی څو ورځی وروسته یعنی د حوت په دریمه د هیواد په پایتخت کابل کی د افغان دیندار او مجاهد ملت له خوا یو داسی بی ساری عمومی پاڅون وشو چی نارینه ، ښځی ، ځوانان او سپین گیری ټول پکی برخمن و په هغه شپه ټول ښاریو مخ د تکبیر نارو په سراخیستی و د توحید کلمی او د ایمانی جذبو ځرگندونی وی ، چی دی کار د هغه عظیم جهاد په درشل کی له هر څه مخکی د خپل لوی او قـادر خدای «ج» سره د اړیکو د لا ښـو ټینگولو معنی درلوده او بیا سم له سهار کیدو سره ټولی لاری ، کوڅی او سړکونه له سربښندونکو مومنانو ډک او د بیل ، تبر او کوتک سره د یرغلگرو روسانو او دهغوی د بی ماهیته مزدورانو په خلاف یرغلونه پیل شول، پلورل شور غلامانو هم په خپل وار له هیڅ ډول جنایته مخ ونه گرځاو او له یوی مخی یی د ښځو ، ماشومانو ، سپین گیرو او ځوانانو په ویشتو او وژلو لاس پوری کړ ، ډیری وینی یی وبهولی او په‌لس گونو او سلگونو هیوادوال یی په‌شهادت ورسول.

د حوت د دریمی نیټی دا یو مخیز پاڅون روسانو او د هغوی نوکرانو ته د افغانانو له خوا یورتپ ځواب و چی نور د دوی اقتدار نه منی او د روسی یرغل په وړاندی نور زغم نه شی کولای دا قیام زمونږ د جهاد په تاریخ کی ځکه ډیر نوم او ارزښت لری چی یو خو د هیواد په مرکز کی و او بل په یوه خوله ، دگرد ولس له خوا چی ټولو پرگنو پکی گډون درلود ، تر سره شوی دی همدغه د افغانانو له خوا یو روښانه او ځرگند پیغام و چی روسانو ته یی دا باور ورکړ چی نور دا ملت سرونه بایللی خو ټیټولای یی نه شی نو دا چی زمونږ سپیڅلو شهیدانو سر ښندنی او جهـادونه وکړل له خپل خواږه ځانه تیر شول او خپل وروستی مسؤلیت یی هم تر سره کړ خو د غلامی په سیوری کی یی ژوند غوره نه کړ ، زمونږ لپاره څومره د غیرت او شهامت نمونه ده ، هغوی مونږ ته د خپل دین ، عزت ، ناموس او خپلواکی ساتنی څومره ښه مثال جوړ کړ ؟ د همـاغو شهیدانو له وینو سیلابونه جوړ شول او بالاخره یی ټول یرغلگر او د هغوی ناولی مزدوران له یو سره په مخه کړل او دا هیواد یی پاک صفا ومینځه ، نن دا دی گران هیواد په بشپړ ډول د افغانانو په لاس کی دی ، د شهیدانو د وارثانو تر واکمنی لاندی دی او ټول اختیـارات یی د همـاغو مجـاهدینو په لاس کی دی چی د خپلو شهیدانو ملگرو سره په یوه سنگر کی جنگیدلی دی ، نو راځی د خپلو شهیدانو خاطری به نه هیروو ، د هغوی قربانی او جهادونه به له یاده نه باسو او د ارمانو ساتنه به یی کوو دا هیواد به د خپلو سرونو په بیه آزاد او خپلواک ساتو او د خپل هغه نظام ساتنه به کوو د کوم لپاره چی په لکونو افغان مجاهدینو خپل سرونه ورکړی دی. راځی یو ځل بیا تعهد وکړو چی دٔ خپل ژوند تر وروستی سلگی به د خپل دین ، ناموس او خپلواکی ساتنه کوو ، په دی لار کی به هلی ځلی کوو ، ستونزی او کړاونه به گالو او گران هیواد ته به آبادی او سوکالی راولو ، د پردیو لاسونه به لنډ وو او په خپلو کی به د اسلامی اخوت او ملی یووالی اړیکی ټینگوو ، تر څو وکولای شو د دښمن د نفوذ مـوری بندی او په بی غمه زړه د هیواد د سمسورتیا ، او سیاسی ، اقتصادی او ټولنیزو چارو په سمون لاس پوری کړو.

د کابل د حوت دریمی پاڅون مونږ ته هر کال په دی ورځ بیا مسؤلیتونه او د هغی ورځی د شهیدانو همدا پیغامونه له ځانه سره راوړی او د هغی ورځی ټول انځور په مخکی راته ږدی مونږ په داسی حال کی چی کابل د عمومی پاڅون په شهیدانو سلام وایو ، هغوی ته د الله عزوجل رضا مندی او د فردوس اعلی خوښی او نعمتونه غواړو ، یو ځل بیا دا لوز او لوړه کو ، چی همدا د دوی په لار به درومو او هماغه د دوی د ارمانونو ساتنه او پالنه به کوو.

د کابل ښاریانو پاڅون

د ١٣٥٨ کال د حوت دریمه :

د حوت دریمه نیټه د افغانستان د پایتخت - کابل د مسلمانو ښاریانو د تاریخی پاڅون د ورځی سره مصادفه ده مخکی لدی چی د حوت د پاڅون په تـاریخ او د روسانو د تیری په وړاندی د افغانستان د مسلمان ولس په وسله وال جهاد باندی یی د اغیزو په هکله څه وواېو ، لازمه ده چی د دی درنی تاریخی پیښی تر مخه ځنی واقعتونو ته یو ځغلند نظر واچوو:

روسانو د همدی کال د جدی په شپږمه : ډیر ساړه ژمی په موسم نیغ په نیغه د ټولو بین المللی موازینو په نظر کی نیولو پرته زمونږ په پاکه خاوره ښکاره پوځی تیری وکړ . دی تیری هر چاته د افغانستان د نیولو په هکله د وخت د شوروی واکمنی د غیر مستقیمی لاسوهنی او د «ښه گاوندیتوب» او «بی غرضه» مرستو د پردی لاندی نیتونه او خبری په‌ډاگه کړی . د روس امپـراطور مآبانه تاریخ او خاصتاً د دوهمی نړیوالی جگړی وروسته د شورویت او لیننی ښکیلاک د تصرفاتو د ځرنگوالی نه تړی والو ته دا موضوع یقینی شوی وه چی روس شا ته نه ځی او کله چی کوم ځای ونیسی بیایی د پرینبو د وواالاندی.

بله د یادونی خبره دا ده چی د روسانو تیری په افغانستان باندی کومه نا څاپی پیښه نه بلکه د ډیرو کلونو په اوږدو کی ترتیب شوی ، ښه سنجول شوی او د دوی په محاسبه کی ښه تلل شوی برنامه او طرح وه . روسانو لا د مخکی نه حتی د انگلیس نه د افغانستان د ازادی گټلو سره جوخت او خاصتاً د ظاهر شاهی سلطنت او داود خان د جمهوری نظاًم په دوروکی د ملک په ترقیاتی ، اقتصادی ، اجتماعی مسیر خپل اقتصادی تخنیکی او ورسره کلتوری او ایدیولوژیک نفوذ کړی وو . روسی طراحانو او تیوریسنانو لکه اولیانفسکی او نورو د لیننی سبقونو او وصایاوو په چوکاټ کی

سـ ری ډوله سوسیالیزم ته د افغانستان د ...ی و ددی لاری شورویت ته د داخلیدو ، «...» طرح کـړی او ددی تیوریک فـ ...لونو د تطبیق په لړ کی یی د عملی ...ی استخباراتی کار پروگرامونه اوبرنامی د خنو ... شعوره او وطن خر ځرنگو ځیرو په وجرد کی د سازمانی فعالیتونو په شکل په کار اچولی وی چی وروسته یی دا ابزار د ثورد نظامی کودتا په ترڅ کی سیاسی قدرت ته ورسول شو .

نړیوال عـامـه ذهنیت کـه څه هم په کلکه سره زمونږ په هیواد باندی د روس د تیری غندنه کوله خو بیا هم د افغانستان غوندی په اقتصادی او تخنیکی لحاظه د وروسته پاتی ساتل شوی هیواد او ببوزلی ولس له خوا په مقاومت او مقابله باندی مطمئن نه وو .

د همدی ساړه ژمی په شپو ورځو کی په داسی حال کی چی روسان د خپلو لاس پو څو سره د کامیابی په گټوا ، نیشو او مستیو اخته وو ، د کابل د ښار مسلمان او دیندار ه خلک چی د بل هر وخت نه زیات یی د بوازی والی او بیوزلی احساس کـاوه د مـانبـام د تیـارو خپریدنی په وخت د خپل خدای «ج» نه د مرستی په هیله د الله اکبر نعری پورته کړی او د تکبیر دی نعرو د حوت د پیښی په درشل کی د ومره قوت واخیست چی د کابل په غرونو کی به یی انگازی خپرولی . د وخت د حکومتی او سازمانی استخباراتی تدبیرونو سره سره چی شکنجی او راښکل پکی شـامل وو دا اوازونه بوازی داچی غلی نشـول ، بلکه نوریی هم سراسری شکل او قوت وموند . چی بالاخره دحوت په دریمه نیټه د یو لوی پاڅون په‌شکل د خلکو د احتجاج او اعتراض د ځرگندولو په خاطر د کابل ښار ښځی او نر د

پوهنیار ډیپلوم انجنیر شریفه

سیلاب غوندی د اسلام په پاکه جذبه د قربانی میدان ته راووتل که څه هم دا پاڅون مسلح نه وو او غوښتل یی لمری د مسالمت په طریقه د خپل اعتراض آواز د تیری په مقابل کی پورته کړی ، خو بیا هم په خالی لاسونو د روسی سپرو قواوو او مجهزو وسلو د بی رحمه اور او زور سره غیږ په غیږ شول ، ډیرو پاڅون کونکو چی په زیات شمیر د ښوونځیو او تعلیمی مرکزونو نجونی پکی شـاملی وی په تش لاس او تیږ د روسی وسلو د اور زړه ورو مقابله وکړه او د شهادت لوړ مقام ته ورسیدل ورسره جوخت په کتلوی ډول زیات شمیر خلک دستگیر ، شکنجه په زندانونو او اعدام« محکوم» شـول د پاڅون کـونکو د ارادی د عظمت او ایمانی ټینگتیا د بی شمیره مثالونو نه یو هم دا وو چی کله د یوی پیغلی په پښو باندی د کلاشینکوف گولی ولگیدی نو بیا ژر په همدغه زخمی پښو د فیر مقابل ته ودریده او گـولی چلونکی ته یی آواز کـړ : « ای نامرده ولی می په سینه او سرباندی مرمی نه ولی . مونږ خو د شهادت په امید راغلی یو ... »

ددی پاڅون او قربانی درس همیشه د کفر ، استبداد او د باطل په وړاندی د ایمانداری او مقاومت یو شانداره مثال او د هر اړخیزه تحلیل او ځیرنی وړ دی . لازمه ده تر څو په جزئیاتو سره ددی پیښی رویداد تفصیل او په ټولو اړخونو یی رڼا واچول شی چی بیله شکه د یوی اخباری مقالی د حدودو نه بهر کار دی خو په خـاص ډول دا مطلب د یادونی وړ دی چی د متجاوز دښمن او اجیرو گوډاگیانو په وړاندی د افغانانو د ټاټوبی د مرکزیت او پایتخت یعنی د کـابل د هـسـوگنو خلکو د واحد اسـلامی پیوستون او پدی کی د بیلو بیلو ژبنی او قومی ډلو او ټولگیو غبرگون او د قربانی میدان ته په

بی سـاری توگـه وړاندی کـیدل د هر دوست او دښمن لپاره د پوره تعمق ، تفکر او عبرت موضوع ده !

که څه هم د حوت د دریمی نیټی پاڅون د روسی جنگی مـاشـین په‌اور او زور ځواب او ظاهراً منحل شو خو د افغانستان د اسلامی انقـلاب او د آزادی د معـرکی په‌انسـجـام او بریالیتوب کی یی خپل ژور او جوړونکی اثرات پریښودل. ددی پاڅون د درسـونو او زمـینه جوړونکو نتـایجو په لړ کی په موجز ډول دا لاندی مسایل د یادونی وړ دی :

اول : ټول هیـــواد وال او نړیوال یی پدی وپوهول چی د متجاوز روس سره زمونږ د هیواد د خپلواکی د گټلو لاره یوازی یوه او هغه هم د وسله وال جهاد لاره ده .

دوهم : د حـوت پاڅون او په هغـه کی د ټولنی د پراخه پرگنو او بیلا بیلو اقشارو گډون پخپله د روسی ، شوروی نورو جمهوریتونو او شوروی پلوه کمونستی دولتونو د عوامو په ذهنیت کی د وخت د شوروی واکمنی له خوا ددی تجاوز د هر ډول تبرئی او سو تعبیر د لایل بی اعتبـاره کړل او د دوی په‌عامه ذهنیت کی یی د بریندی مداخلی او پراختیـا غوښتنی قضاوتونو ته زمینه برابره کړه .

دریم : جهانیان پدی وپوهیدل چی افغانان د ټولو مشکلاتو او ددښمن په‌وړاندی د بشری ، اقتصادی او تخنیکی نابرابروالی سره سره د مسلمانی د قوی جذبی نه برخورداره دی او ددی جذبی له‌مخی د روس د په‌شا نه تللو اندیښنه د دوی د ازادی احساس او ایمانداری نشی را پرزول دی. او همدوی کولای شی روس ته د شکست تر پولو پوری د خپل وطن د دفاع په لاره کی په زغرده جهاد او مبارزه وکړی.

جمعه ء خونین

عبدالرقیب جهید

رستاخیز سوم حوت سال ١٣٥٨ خورشیدي جایگاه بس مؤثر در اوراق تاریخ درخشان جهاد و انقلاب اسلامي ما دارد و مي سزد که این روز پر افتخار تاریخي و جهادي را بخط زرین در صفحات دائرة-المعارف جهادي کشور نقش بست و به آن بمشابه بزرگترین الگو و نمونه، قیام حق علیه باطل و پیروزي مشت بر شمشیر تعبیر نمود.

آري ! قواي مهاجم و اشغالگر شوروي سابق که بنا بر زعم فاسد و ایدیالوژي متحوس انترناسیونالیستي و در واقع پیاده کردن خیالبافي هاي پوچ و میان تهي بطر-کبیر و سردمداران حزب کمونیست چون مارکس یهودي و لینن و ستالین این سفاکان و ددمنشان قطبي را مبني بر بلعیدن سرزمین مرد خیز و مجاهد پرور ما و رسیدن به آبهاي گرم خلیج فارس و مناطق نفت خیز و بحر هند در ششم جدي ١٣٥٨ بر خلاف موازین و معاییر بین المللي دست به یورش و تهاجم وحشیانه بر افغانستان زدند تا رژیم ملحد و دست نشانده خلق و پرچم این مزدوران شرف باخته را از سقوط قریب الوقوعش برهانند چون مسلماً مقاومت جانبازان توحید و مجاهدین سر سپرده اسلام از بدو وقوع کودتاي هفت ثور ١٣٥٧ در مقابل رژیم ادامه داشت و اگر به نگاه ژرف در ادوار گذشته نظر اندازي شود مبارزه و جهاد نهضت اسلامي کشور و در رأس آن قیام

جوانان مسلمان از سالیان قبل در برابر عناصر ملحد و وطنفروش اعم از احزاب کمونست روسي و چیني، باند هاي مزدور ستمي و شعله-جاوید و نشنلست هاي غربگرا سابقه درخشان دارد ...

بنا کردند خوش رسمي بخاک و خون غلطیدن
خدا رحمت کند این عاشقان پاك طینت را

بلي خواننده عزیز! شهریان مسلمان و آزاد-منش کابل زمین با الهام از ارشادات قرآنکریم و سیرت سید المجاهدین حضرت فخر کائنات «ص» و به تأسي از خط اصیل تحریك مجاهدین و پیشتازان نهضت اسلامي کشور بعد از گذشت ٥٧ روز از سرازیر شدن قشون اشغالگر شوروي متوفي هنگامیکه نور خورشید کمرنگ شده میرفت و به غروب نزدیکتر مي شد نعره هاي کفر ستیز و الحاد-شکن الله اکبر از تمام کوي و برزن شهر کابل در فضا طنین انداز بود ، عَلَم هاي مبارك کلمه، توحید و درفش پر اهتزاز آزادي و شعایر اسلامي را به اهتزاز در آوردند و مردان و زنان و بویژه دوشیزه گان مؤمن، دلیر و مقاوم این خطه همچو جوانان مسلمان در صف مقاومت بسیج شده و به تظاهرات و شعار دادن، قلب

الحاد و سنگر طاغوت را به لرزه در آوردند و عملاً به خلقي هاي خود باخته و پرچمي-هاي وطنفروش این حقیقت را بازگو نمودند که این کشور عقابها را نمیتوان توسط زاغ و-زغن تسخیر کرد و نمیتوان با تمام نیروي آتش و آهن و زراد خانه‌ء کمونیزم بر سلاح ایمان و عقیده این مرز و بوم غالب و سلطه پیدا کرد ؟ !

مگر قواي اشغالگر روس و چاکران خلقي و پرچمي شان از فرط خوف و وحشت صفوف توفنده، قیام، دست به حملات بزدلانه بر مردم مظلوم و مستضعف گلزمین کابل زده و بسا از مسلمانان بیدفاع را درین روز سرنوشت ساز و حماسه آفرین به شهادت رسانیدند مگر نتوانستند جلو صفوف رزمنده و مقاوم مجاهدین سر بکف راه حق را سد شوند که این روز تاریخي بزرگترین ضربه، غیر قابل جبران را بر پیکر ببر کاغذي، و هیولاي فاسد کمونیزم وارد ساخت و از همین روز روسها و مزدوران شان سند شکست شان را در افغانستان به دست خود امضاً کردند و در مقاطع بعدي واقعاً به شکست ایدیالوژیکي، نظامي و سیاسي مواجه شده و

دژ کمونیزم در جهان فروپاشید و لواي با عظمت توحید در کوهپایه هاي کشور در اهتزاز در آمد و جهاد افغانستان سر مشق آزادي و درس ایثار و قرباني را براي سایر بلاد مسلمین و کشور هاي در تحت اسارت شورویهاي مهزوم الهام بخشید که این همه از امداد و نصرت موعود ذات قوي و مقتدر خداي کائنات «ج» و شمه یي از معجزه، لامعه، پیغمبر گرامي اسلام سرور مجاهدین «ص» بود و ما درین برهه، حساس کنوني از خداوند احکم الحاکمین«ج» مسئلت میداریم تا تمام نیرو هاي طاغوت استکبار شرق و غرب و کفر جهاني را از ریشه قلع و قمع نماید و مجاهدین اسلام را در تمام اکناف جهان و بویژه در چیچن ، فلسطین، کشمیر و تمام کشور ها بر دشمنان عقیده و آزادي کامگار و پیروزگرداند و ملت مسلمان و قهرمان افغانستان را توفیق عنایت بخشد تا در امر تعمیل شریعت الهي «ج» و سنت مطهره، نبوي «ص» که نصب العین و هدف چهارده سال جهاد و مبارزات مسلحانه و دست آورد خون هاي پاك و مطهر یکنیم ملیون شهید بخون خفته این سرزمین است از دل و جان بکوشند و در زیر چتر امارت اسلامي به کمك و یاري برادران مجاهد خود در تمام نقاط مساعدت مالي و معنوي را دریغ نورزند.

شاد باد ارواح شهدا گلگون قباي جهاد افغانستان

در اهتزاز باد لواي با عظمت توحید

سالروز حماسهٔ سوم حوت

وحيد مژده

سالروز ها قصه هاي روز ها و آدمهاست ولي قصه حماسه ها، داستان خون است که بر صفحه، شرف و افتخار به يادگار مي ماند قيام سوم حوت سال ۱۳۵۸ مردم مسلمان کابل نيز رنگ خون داشت و رنگ شرف ...

درين روز شهر کابل پر از طنين پر شور نعره هاي تکبير بود. مردم مسلمان از هر گروه و قوم و جماعت با وحدت کامل در حاليکه با چوب و بيل و داس و تبر مسلح بودند بسوي مراکز دولتي سرازير گرديدند و بر پرچمي هاي ددمنش مزدور روس حمله بردند. فرياد هاي کوبنده (الله اکبر) لرزه بر اندام کمونيست ها انداخت.

درين قيام، مردم مراکز و نواحي شهر کابل شرکت داشتند. دشمن با مدرنترين سلاحها مجهز بود ولي مردم با دست خالي اما با نيروي ايمان در برابر آنان قامت افراشتند. دشمن زبون با اسلحه، ثقيل بر مردم حمله برد در چهار دهي، ده دانا، قلعه، قاضي، ده بوري، پاي منار، بيني‌حصار، بگرامي، جمال مينه، شهر آرا، قلعه، فتح الله، جاده، ميوند، شهر کهنه، کارته پروان و غيره مناطق صد ها نفر را هدف رگبار مسلسل قرار داد. هليکوپتر ها از هوا و تانکها از زمين بر مردم آتش مي ريختند در اطراف پارك زرنگار اجساد شهدا تا شامگاه برزمين افتاده بود.

نکته مهم درين قيام شرکت دختران مکاتب شهر کابل در پيشاپيش اين تظاهرات بود رژيم کمونيستي مدعي بود که با اعلام تساوي حقوق زن و مرد در جامعه براي نخستين بار در تاريخ افغانستان به زنان آزادي واقعي داده است و بنا بر اين زنان افغان پشتيبان رژيم کمونيستي در افغانستان اند اما دختران مسلمان افغان درين تظاهرات و قيام خونين با فرياد هاي کفر بر انداز (الله‌اکبر) و شعار هاي آتشين مرگ بر روس و مرگ بر مزدوران روس، زنده باد اسلام، پيروز باد مجاهدين، مراتب نفرت و انزجار خود را از رژيم کمونيستي ابراز نمودند و درين پيکار بر حق عده يي از اين خواهران از جمله ناهيد، آمنه، سلطانه و سلما بدست دژخيمان ددمنش پرچمي جام شهادت نوشيدند. روان شان شاد و ياد شان گرامي باد!

ببينيم که خود اين جنايت پيشگان در باره قيام سوم حوت مردم مسلمان کابل چه مي گويند. جنرال نبي عظيمي يکي از مزدوران سر سپرده روس از گروه پرچم در کتاب (اردو و سياست در سه دهه، اخير افغانستان) که منسوب به اوست در حاليکه اين تظاهرات را تحريکي از طرف شبکه هاي اطلاعاتي خارجي قلمداد مي‌کند و حتي بيشرمانه ادعا مي کند که درين تظاهرات شانزده نفر پاکستاني دو نفر چيني دو نفر امريکايي و يك نفر مصري نيز دستگير شدند !! ولي در عين حال قادر به ناديده گرفتن عظمت اين قيام نيست و با ضد و نقيض گويي بدون اينکه خود بخواهد به حقيقت اعتراف مي کند او مي نويسد :

« ... دختراني که براي شان گفته شده بود که بر ضد روسها مظاهره کنيد (زيرا) آنها کشور ما را اشغال کرده اند (آنها) با خون هاي مقدس خويش به آن قيام عظمت و بزرگي بينظيري بخشيدند. صرف اين چهار دختر نبودند. دختران ديگري نيز با خون خويش سرك هاي کابل را رنگين کردند و صميمانه و معصومانه جان باختند ... »

« عظيمي » بعنوان يك پرچمي با وجود اينکه جانبدار موضع رژيم ببرك است اما روشني واقعيت ها براي وي مجال انکار باقي نمي گذارد. وي اعتراف ميکند :

« در کابل هم تخت پادشاهي مي لرزيد زيرا که زمزمه ها و همهمه هاي خفته اينك به تظاهرات خود جوش مردم تبديل شده بود » او از يکطرف تظاهرات را خود جوش و از طرف ديگر به تحريك خارجي ميداند که خود با هم در تضاد است و براي اينکه تاثير احساسات اسلامي را که درين قيام انکار کند مي گويد : « تبليغات و تحريکات جهان آزاد آنرا به موج خروشاني از هيجانات ضد روسي تبديل ساخته بود » ولي او بالآخره اعتراف ميکند :

« قيام کابل تجريد و انزواي دولت ببرك کارمل را از مردم نشان ميداد و نمايانگر وابستگي دولت به قوت هاي شوروي بود. بدنبال قيام سوم حوت بکبار ديگر سعي گرديد تا با تحريکات محصلين، پوهنتون کابل فاجعه، سوم حوت را تکرار کنند. دختران محصل بيشتر تاثير پذير بودند آنها در پيشاپيش تظاهر کنندگان جاي مي گرفتند و چپ و راست دولت را مي کوبيدند. ببرك کارمل را دست نشانده روس مي خواندند. و توهين مي کردند مي گفتند : بچه هاي لينن چرا به کشور ما آمده ايد وطن ما را ترك گوييد. آنها سعي کردند در ماه ثور از برگزاري سالگره انقلاب ثور جلوگيري نمايند ... »

(لازم به تذکر است که نويسنده درين کتاب در رابطه با سوم حوت اشتباه بزرگي را مرتکب شده و اين قيام را سال ۱۳۵۹ نوشته است در حاليکه قيام سوم حوت کابل تقريبا دو ماه بعد از تجاوز شوروي به افغانستان در سال ۱۳۵۸ صورت گرفت جنايتکاران تاريخ زمان جنايت خود را نيز از ياد برده اند !)

احساسات پر شور اسلامي دختران مکاتب و پوهنتون موجبات خشم مزدوران کرملين را فراهم آورد و آنها با ريختن زهر در ذخاير آب آشاميدني مکاتب نسوان در کابل و متهم ساختن مجاهدين به اين عمل سعي کردند تا دختران مکاتب را از جانبداري مجاهدين باز دارند ولي درين کار توفيقي نداشتند. تمايل به عضويت در سازمانهاي حزب کمونيست وجود نداشت و اين شکست بزرگي براي پرچمي ها بود.

هر چند تعداد دقيق شهداي سوم حوت ۱۳۵۸ کابل هرگز مشخص نشد ولي کسانيکه اين جريانات را از نزديك در آنروز شاهد بودند از صد ها تن شهيد و هزاران تن زخمي سخن گفته اند. بيش از پنج هزار نفر نيز بوسيله پرچمي ها درين روز دستگير گرديدند و عده يي از آنان نيز بدون محاکمه به رگبار کلاشينکوف بسته شده و جام شهادت نوشيدند.

قيام سوم حوت ضربه، سختي بربيکر رژيم در داخل و بطلان ادعا هاي آن در سطح بين المللي بود که سعي داشت در برابر مجاهدين که آنها را عقب گرا و خواستار بازگشت کشور بدوره، قرون وسطي مي خواند از خود چهره يك نظام مدرن را به نمايش بگذارد رژيم کمونيستي ادعا داشت که مردم روستا ها که شديداً مذهبي و تحت تاثير نظام فيودالي اند بر عليه رژيم تحريك ميشوند در حاليکه مردم شهر ها از اقدامات دولت پشتيباني مي کنند ولي قيام سوم حوت نشان داد که ريشه هاي نفرت از آن رژيم منفور بقدري عميق است که شهري و روستايي نمي شناسد. مشکل رژيم در وابستگي آنست و مردم مسلمان افغانستان اين رژيم وابسته به کفر و اين نظام الحادي را هرگز نمي پذيرند.

جنايتکاراني که دست هاي ناپاك شان بخون شهداي سوم حوت رنگين شد بعد از بقدرت رسيدن حکومت به اصطلاح مجاهدين اکثراً در همين کابل بودند. ببرك کارمل مدتي بعد از سقوط کابل و سرنگوني رژيم نجيب کابل را ترك گفت در حاليکه تانك هاي کمونيست ها و شوراي‌نظار مشترکاً از منزل وي پاسداري ميکردند. اين جنايتکاران مورد عفو قرار گرفتند و بعد با خانواده هاي خود بصورت مصؤن از کشور خارج و در کشور هاي غربي پناه يافتند. در غرب کسي به اين امر اعتراض نکرد که اين عناصر قاتل مردمان بيدفاع و ناقض حقوق بشر بوده اند.

در سالروز آن قيام و آن حماسه ياد شهداي گلگون کفن سوم حوت ۱۳۵۸ کابل را گرامي ميداريم تلاش در جهت تحقق آرمانهاي آنان وجيبه ديني و ميهني ماست.

نفرين ابدي بر جنايتکاران و قاتلان شهداي سوم حوت شهر کابل!

د ۱۳۵۸ کال د حوت په دريمه د کابل د مسلمانو ښاريانو د پاڅون په ياد :

سرې لاوري او سپين اورونه

غازي خيل

پوره شل کاله مخکی، هغه مهال چی سرو لښکرو له کبر ډکی د شرابو کاسی پر سر اړولی او زموږ د شهيد پال هيواد د خپلولو ليوتی خوبونه يی په مردارو ماغزو کی کښته پورته کول د همدا تن ورځی په ماښام يی هر څه هر څه بدل وليدل، نيشی يی والوتی، سرونه يی په ډېرو ولګيدل او هيلی يی په نا هيلی بدلی شوی هغه وخت چی د ۱۳۵۸ کال د حوت د مياشتی د دريمی نيټی په ماښام د کابل مسلمانو ښاريانو د تکبير د کفر لړزونکو نارو په اوچتولو د کابل په ښار کی د پرديو پوځيانو او د هغو د لاس پوڅو پر خلاف د جهاد اعلان وکړ، هغه ماښام ډېر له ويارہ ډک او بختور و هغه وخت چی د ماښام تر لمانځه وروسته د کابل نارينه او ښځينه ماشومان او سپين ږيری د خپلو کورونو د بامو سرونو ته وختل او په خپل ګران او اسلامی تاتوبی باندی د سرو ښامارانو د يرغل پر ضد يی خپل آوازونه اوچت کړل، د تکبير خپلواکی زېږونکو نارو د کابل ښار او شاوخوا سيمو ځمکه او هوا په خوزېدو راوستی وه هر چا د خپلواکی احساس کاوه او ټولو مومنو کابليانو توره هغه مرګونی چوپتيا او بی وسی چی د ملحد تره کی او امين د ظالمانه واکمنی په دوران کی دلته خپره وه په ايمان، جرأت او زړورتيا سره د تل لپاره ماته کړه او د پرديو پوځيانو غوږونو ته يی دا پيغام ورساوه چی دا افغانستان دی دا د مسلمانانو تاتوبی دی دا د خپلواکی په شمعه رڼا خاوره ده، دلته پرته له اسلام او اسلامی نظام څخه بل قانون، پرته له خپلواکو او مسلمانو قايدينو څخه نور واکمنان او پرته له مومنو او وطنپالو افغانی پوځيانو څخه نور پلورل شوی او يا بهرنی وسله وال نشی منل کيدای.

هغه شپه تر سهاره د توحيد د خپلواکی ښونکو تکبيرونو اوازونه وو، کله چی سهار شو لا وختی د افق څنډی سری وی او داسی ښکاريده چی تن به يو ستر بدلون د راتلو په درشل کی وی هغه بدلون چی ټول افغانستان او نړيوال به وښوروی او د يوه ستر حقيقت منلو ته به يی چمتو کړی او هغه دا چی د نورو افغانانو په شان د کابل مسلمان اوسيدونکی هم د پرديو تر واکمنی لاندی ژوند د ځان لپاره شرم او بی همتی بولی او په دغه ورځ يی د ځوانانو د سرونو په بدل کی نوموړی ادعا رښتينی کړه او د بی ايمانه کارمل او د هغه د نورو پلورل شويو انډيوالانو دغه ناری سوری يی چی ويل به يی يواځی فيوډالان او مرتجعين دی چی له نوی انقلابی نظام سره دښمنی کوی د ښارونو خلک او د علم او پوهی خاوندان د انقلاب دوستان دی، غلطی وښودلی او دا حقيقت يی بربنډ کړ چی د کليوالو او لری پرتو سيمو د اوسيدونکو په پرتله د ښارونو او علمی ځانګو روښنفکره افغانان د علم او پوهی په رڼا کی د کمونيزم توره څيره ډېره ښه پيژندلی او په افغانستان د سرو لښکرو د يرغل په موخو او هيلو ښه پوهيږی او دوی په هم د خپلو نورو مجاهدو هيوادوالو په څير د ژوند تر وروستی سلګی د پرديو تر واکمنی لاندی ژوند ونه منی. د کابل ښاريانو له وياړه ډک ميړنی پاڅون په ښکاره وښودله چی هيڅ افغان مسلمان د کمونيزم پلوی نه دی او نه له هغوی سره يوځای ژوند کول غواړی روسی پوځيانو او خلقی پرچمی مزدورانو په دغه ورځ د کابل له ښاريانو سره ډېره ظالمانه او وحشيانه رويه وکړه هر ځای او په هره سيمه يی جيټ او هليکوپتری ورالوزولی او ټانکونه يی پری وروستل. له هوا او ځمکی نه يی پر تش لاسو خلکو اورونه او ګولی واورولی د کابل ښار په هره سيمه او هر بازار کی په لسهاو ځوانان شهيدان او بی شميره خلک سخت ټپيان شول، هغه مهال ژمی ډېر سوړ وو هره خوا سپين واوری پرتی او فضا ټوله سپينه وه خو د ظالمو کمونستانو د سرو اورونو له کبله سپينی واوری د شهيدانو پر وينو سری شوی او ځای ځای د واورو له اوبو سره دداغو ارمانجنو شهيدانو وينی بو ځای شوی او د وينو ډنډونه يی جوړ کړی و.

د نوموړی کال د حوت په دريمه د کابل د دارالامان د سيمی د ده دانا په بازار کی د خلکو په پاڅون او تکبيرونو کی زه هم شريک وم د کمونيستو ټوپکوالو يوه ستره وحشيانه او له رحمه تشه صحنه می له پيل څخه تر پايه وليدله پرچمی خلقی ملحدينو پر دومره بيرحمی او شوق پر افغانی شاځلميانو اورونه بل کړل تا به ويل چی دا ټوپکيان له نيکه نيکه روسان دی او د پرديو دښمنانو په څير معامله کوی. که څه هم دوی په رښتيا افغانان نه وو بلکه د روسانو په لاسونو يی لاری شوی ملحدان وه د سهار د اتو بجو په شاوخوا کی د سيمی ټول نارينه سرکونو ته راووتل او د تکبير د نارو تر څنګ د خپلواکی په هيله د پرديو پوځيانو او د هغوی د داخلی مزدورانو د واکمنی د نه منلو ناری پيل شوی خلکو د ده دانا په بازار کی د سيمی حزبی دفتر چی تر څنګ يی د کمونيستانو په اصطلاح د تعاونی صندوق دفتر هم وو تر بريد لاندی راوست د هغه دروازی يی ورماتی کړی منز چوکی او کمونيستی اسناد يی سرک ته راوغورځول او وريسی پاڅون په پوره ولولو سره دوام وموند د ورځی د لسو بجو شاوخوا وی چی د سيمی د پوليسو د قوماندان د سپرلی جيپ د خلکو د لاريون سيمی ته په ناڅاپی توګه راورسيد. ځوانانو د تکبير په نارو سره پر جيپ ور منډه کړه په جيپ کی سپاره دوه تنه عسکر او د پوليسو قوماندان په داسی حال کی چی وسلی يی په لاسونو کی وی له موټر څخه راکښته شول او د سرک د غاړی جومات ته ننوتل خلک پر جيب وروختل او د کمونيزم په خلاف تکبيرونو لاجوش واخيست، څو تنو ځوانانو په دی تکل چی مزدور پوځيان د خپلی غلامی په سزا ورسوی د جومات په خوا ورودانګل خو د جومات په دروازه کی ولاړو سپين ږيرو د هغوی مخه ونيوله او په دی الفاظو چی قوماندان او عسکر مسلمانان دی او جومات ته په همدی خاطر ننوتلی چی جومات د امن او احترام مقام دی او په دی عقيده لری نو پر هغوی غرض مه کوی، ځوانانو نوموړی خبره و منله خو قوماندان ته يی په خطاب کی وويل چی افغانان هيڅکله غلامی نشی منلای د اولس يو خپلواک او سر لوړی ملت دی او د سر په بيه به له خپل هيواد او خپلواکی څخه ساتنه کوی د پوليسو قوماندان بيرته ژغ وکړ چی ورونو زه هم شکر مسلمان او ستاسی ورور يم هلته په حوزه کی د کمونيستو ټوپکيانو او د څو تنو روسی پوځيانو تر منځ خبری اتری وشوی هغوی ته د کارمل له لوری هدايت ورکړ شوی چی پر خلکو ټانکونه وروخيژوی او بمونه پری وروغورځوی خو پاڅون بايد وځپل شی کمونستان او روسان همدا اوس د حملی لپاره ځانونه سمبالوی او کيدای شی څو شيبی وروسته د کابل ښار په هری سيمی وروډانګی، زه په همدی خاطر دلته راغلی يم چی زما ورونه پاست وسلی در سره نشته، له روسانو سره په تش لاس مقابله نه کيږی اوس سره تيت او کورونو ته ولاړ شی هر وخت مو چی وسلی تر لاسه کړی بيا په ميړانه جهاد وکړی د قوماندان خبری په همدی ځای ودرول شوی د تکبير ناری اوچتی او ايمانی جذبی په خوځيدو شوی او دا شعارونه چی موږ د ايمان په قوت له کافرانو سره جګړی ته چمتو يو اوچت شول قوماندان بيا وويل چی ما خپل افغانی مسؤوليت تر سره کړ او تاسی می خبر کړی نور مو خوښه که پر موږ مو څه ښه کيږی دا دی موټر او وسلی مو ستاسی په اختيار کی دی د پاڅون مشرانو تر لنډو خبرو وروسته سره وويل چی په دا دوه دری ميله وسله څه نه کيږی بيا به روسان وايی چی په پاڅون کی پاکستانيان او ايرانيان وو نن به په همدی تش لاس روسانو ته ښيو چی موږ غلامی نه منو، قوماندان او عسکرو ته يی اجازه ورکړه چی ولاړ شی او پاڅون هماغه شان د خاصو ولولو په ښودلو سره روان وو د ورځی د دولسو بجو شاوخوا وی چی د روسانو زغروال موټرونه راښکاره شول په ډېری تيزی د خلکو په خوا راغلل خلکو سرک پريښود زغروال موټر تير شول او څو شيبی وروسته بيرته را وګرځيدل. دا ځلی يی ماشينګنی وچلولی او د سرک پر سر د برښنا کيبلونه يی وپشتل هغه وشليدل او پر خلکو را ولويدل او زرهپوښونه تير شول او لږ ځند وروسته پنځه شپږ زرهپوښونه اولس دوولس جيپان له دری څلور خواو ښکاره شول د خلکو ګڼی ګوڼی ته په را نږدی کيدو وسله وال کسان له جيپانو کوز شول او د زرهپوښونو بوخان ماشه په لاس امر ته منتظر پاتی شول، کمونيستو ټوپکيانو په لوړ غږ وکی ناری کړی چی ژر تر ژره سره تيت شی که نه پوځی عمليات به پيل شی، د خلکو د تکبير ناری لا اوچتی شوی او هر ځوان د شهادت منلو ته تيار شو. له څو ځله نارو وروسته کمونيستانو هوايی ډزی پيل کړی او خلکو هم تکبيرونه لا اوچت کړل وريسی کمونيستانو د خلکو شاوخوا سيمی په نښه او ډزی پيل شوی خو تکبيرونه کرار نه شول ناڅاپه د يوه کافر له خولی د اور بل مرداره ناره اوچته او هره خوا سری لمبی بلی شوی خلکو هم پر جيپانو او زرهپوښونو حمله ورووړه او کمونيستانو بی دريغه ګولی وچلولی زه چی په دغه شيبه کی لږ څه لری د يوه دکان په څنګ کی له څه نورو کسانو سره ولاړ وم عجيبه صحنه او ليدنه می وليده تر څو شيبو ډزو وروسته کراری شوه او کافر پوځيان په موټر کی سپاره او وتښتيدل خو هلته د ده دانا د ښوونځی تر څنګ ميدانی کی په لسهاو ځوانان په خپلو وينو کی لمبيدلی وو او هره خوا بيا هم د تکبير ناری وی او ځوانان په خپلو وينو کی اوښتل رااوښتل د سيمی په زړګونو نارينه او ښځينه پر ميدانی راټول شول کټونه راغلل او جنازی اوچتی شوی، ټپيان په شا کورونه ته وبورل شول په دغه ورځ په ده دانا کی ۲٤ تنه ځوانان شهيدان او څه د پاسه اويا تنه ټپيان شوی وو د کمونيستو ټوپکيانو ډزو که څه هم سره اورونه بل کړل نوموړی اورونه په سپينو واورو او پلوشو بدل شول هغه ځوانان چی شهيدان شول هغوی ته يی د جنت رڼا وی ور په برخه کړی او هغه چی ژوندی وو په هغوی کی يی د جهاد جذبی ښی تودی کړی چی د همدی جهاد په نتيجه کی وروسته له څو کلونو د خپلواکی سپين لمر وځليد او اوس په هيواد کی د اسلامی نظام سپين بيرغ رپيږی او ښکاره شوه چی سره اورونه په پای کی سپين شول.

ذهني ازموينه

د تيرې گڼې د پوښتنو ځوابونه

١- سمنت د انگريزي بنا ، جوزيف آسپن لخوا كشف شول .
٢- د دوو زرواو پنځو سوه علمي اختراعاتو مخترع توماس ا ديسون نوميده .
٣- د سويس كانال په ١٨٩٦ كې د فردينانډ په امر وكيندل شو .
٤- هغه هيواد چې ډيرې زلزلې پكې كيږي جاپان دى .
٥- د نوبل جايزه د لومړي ځل لپاره په كال ١٩٠١ سللي بريدون ته وركړل شوه .

دا هم د دې گڼې پوښتنې :

١- بكتريا د حيواناتو له جملې څخه دي كه د نباتاتو ؟
٢- د زړه حجم لوى دى كه د ځگر ؟
٣- كه د يوه مربع ديوې ضلعې اوږد والى ١٠ سانتي متره وي مساحت به يې څومره وي ؟
٤- په نړۍ كې تر ټولو لويه وچكالي چيرې او څه وخت پيښه شوه ؟
٥ . . هغه كوم هيوادونه دي چې په وطني ببرغونو كې يې ستورې او مياشت گډ ليدل كيږي .

باتي: په نايجريا كې اسلامي قانون ...

آرامىيو كې وژل شوى دي. د هغه ځاى سرپرست والي بي بي سي راډيو ته وويل : چې اوس دا نا آرامى تر واک لاندې راوستل شوى ده له دې خبر داريو سره چې هر سر غړونكي به ځاي په ځاى په گولى ويشتل كيږي په ښار كې په هر ډول كړو وړو بنديز لگيدلى دى.

مخكې له كلو څخه د بي بي سي خبريال ويلي و چې ده يو شميركسان وليدل چې ووژل شول او يو شمير يې ژوندي وسيزل شول په صحنې كې شته كسانو وويل چې پوليسو په بلوا كونكو چې نه په شا كيدل هرى خواته ډزې كولى ورو ستې تاو تريخوالى د مسلمانانواو مسيحيونو تر مينځ پرون پيل شو چې په ښار كې د دواړو شمير نژدې يو شان دى .

باتي: په كاسووا كې ...

دغو خلكو چې هڅه يې كوله له پله اخوا خپله لار آزاده كړي د سوله ساتونكو ځواكونو سره ونښتل.

لويديځو قدرتونو ديو گوسلاويا په جمهور رئيس تور ولگاوه چې په دې نا آراميو كې لاس لرى.

بقيه اولين پرواز ...

نمود.

سلسله انتقال حجاج ذريعه طيارات و د آريانا افغاني هوايي شركت، جهت اداي فريضه حج بيت الله شريف به صوب جده ادامه دارد.

اطلاعيه وزارت حج و اوقاف

به اطلاع آنعده حجاج كه در كابل ثبت نام نموده اند و پول مصارف حج شانرا تحويل نموده اند رسانيده ميشود كه الي ١٨ ذوالقعدة الحرام مطابق پنجم حوت به كمپ حجاج واقع پوهنتون كابل مراجعه نمايند.

همچنان از حجاج محترم كه در ولايات هرات و قندهار ثبت نام نموده اند تقاضا ميشود كه مطابق اعلان راديو صداي شريعت ولايت قندهار با در نظر داشت ثبت نام برياست حج و اوقاف ولايت قندهار مراجعه نمايند و حجاج محترم كه در ولايات ننگرهار وبلخ ثبت نام نموده اند منتظر آگاهي بعدي وزارت حج و اوقاف باشند.

اطلاعيه رياست تعليمات تخنيكي و مسلكي وزارت معارف

مدارس تعليمات عالي ميخانيكي كابل ، اتو ميخانيكي كابل ، اداره وحسابداري ، ساختماني و صنايع محلي ، زراعت، هوانوردي ، تخنيك ثانوي ، مدرسه تجارت ، هنرهاي زيبا ، نساجي ترميم موتر و ماشين آلات صنعتي ، ترميم راديو تلويزيون ويخچال ، ساختمان ماشين آلات ، و مدرسه تربيوي انرژي برق براي سال تعليمي جديد طالب العلمان فارغ صنوف نهم را بحيث جديد الشمول نهاري درصنوف دهم مدارس متذكره ميپذيرد.

طالب العلمان با سه قطعه فوتو و تذكره به مديريت هاي مدارس ياد شده مراجعه و فورمه شموليت را اخذ نمايند.

به نيروي دانش و ادبيات خود در مسابقه اديت اشتراك كنيد !

مديريت ديپارتمنت تأليف و ترجمه مؤسسه افغان - ترك مسابقه اديت را ترتيب ميدهد . براي مراجعه كننده گان «مسابقه اديت» بخاطر اديت نمودن متن فارسي داده ميشود. متن داده شده را در مدت يك هفته با قلم سرخ اديت نموده دو باره به ديپارتمنت موسسه افغان - ترك مي آورند. كميسيون مسابقه كار كرد آن ها را بررسي و بعداً نتايج را اعلان مينمايد.

مراجعيني كه در مسابقه اديت اشتراك ميكنند بايد داراي اوصاف ذيل باشند :

١- در باره علوم ديني از قبيل تفسير، حديث و غيره معلومات كافي داشته و داراي حاكميت باشند.
٢- در باره ادبيات دري داراي معلومات كافي و صاحبنظر باشند.
٣- كتب ديني، علمي و ادبي را زياد مطالعه نموده باشند.
٤- رأي و نظر خود را در اديت مقالات دري با خصوصيات ياد شده، بالا مهارت خاص ارائه كرده بتواند.

كسيكه در مسابقه مقام اول را احراز نمايد مبلغ (١٠)لك افغاني جايزه داده ميشود.

اشتراك در مسابقه آزادانه بوده از اشتراك كنندگان خواهشمنديم تا به ديپارتمنت مؤسسه افغان- ترك واقع در پهلوي مسجد شاه دو شمشيره عليه الرحمة مدرسه آريانا افغان - ترك مراجعه نمايند. شروع مسابقه از وقت به دست آوردن متن اعتبار دارد.

بقيه دومين سيمينار ...

مطلبي تحت عنوان جنگ و تأثير آن بر خانواده در دو دهه قبل، محترم قاري اجمل معاون تعليم و تربيه پوهنتون مقاله يي تحت عنوان صحت رواني خانواده از نظر اسلام، محترم پوهاند دكتور محمد امين استاد پوهنځي تعليم و تربيه مقاله، تحت عنوان حادثات غير مترقبه و مصائب رواني فاميل ها، محترم ستار الدين استاد پوهنځي تعليم و تربيه مقاله يي تحت عنوان رعايت فاميل يتيم و محترم مولوي ميرويس رئيس پوهنځي تعليم و تربيه مقاله خود را تحت عنوان رعايت فرزندان يتيم يكي يي ديگر قرائت نمودند .

محفل با دعاييه، اختتاميه توسط محترم مولوي پير محمد روحاني رئيس پوهنتون كابل خاتمه پذيرفت.

بقيه طي سال جاري مبلغ ...

جريان دارد : پروژه ترميم گدام هاي تخمهاي اصلاح شده دارالامان ، پروژه بونت ترويجي ولسوالي چهار دهي و پغمان ، فارم مرغداري جنگلك و در بخش صنايع و مواصلات احياي مجدد برج هاي برق، تمديد لين برق پارك هاي صنعتي وزارت معادن و صنايع، مركز تربيوي مخابرات، پسته خانه هاي خوشحال خان مينه، جاده ميوند، سيد نور محمد شاه مينه،و پسته خانه پارك هاي صنعتي، تعمير اتومات ولايت غزني، مكروريان ، شهر نو، بي تي تي و احياي مجدد تعميرات مخابرات ولايت لغمان، تعمير مركز رياست هوانوردي ملكي و پروژه توسعه ميدان هوايي . تعمير اداري رياست مطالعه و نقشه برداري زمين، مطبعه امارتي در بخش خدمات اجتماعي پروژه احياي مجدد پوهنتون كابل، موسسه پوليتخنيك ، پوهنتون دعوت و جهاد، پروژه مقر وزارت تحصيلات عالي، طب كابل، پيداگوژي كابل، پوليكلنيك صحي استادان و محصلان پوهنتون و تخنيكم الكترومیخانيك و پروژه محكمه ننگرهار، پروژه محكمه ولايت كابل، پروژه محكمه ولايت هرات، پروژه محكمه ولايت لغمان، كه كار آنها به فيصدي هاي متفاوت پيشرفته‌است.

در بخش تعليم و تربيه اعمار و احياي مجدد پروژه مركز وزارت تعليم و تربيه، مركز سائنس، معارف شهر كابل، مطبعه معارف، ليسه حبيبيه، مدرسه ابو حنيفه، اتوميخانيك، مسجد شريف پروان سوم و مسجد شريف كمپني ، پروژه احياي مجدد مقر وزارت فوايد عامه، احياي مجدد مستوفيت ولايت پكتيا ، احياي مجدد تصدي سمون، تاحياي مجدد هنگر تعمير نباتات طبي در ساحه پلچرخي و احياي مجدد گدام ذخيره مواد دو راهي پلچرخي ، ساختمان دو باب هنگر ارزاقي پلچرخي، جريان دارد.

بايد متذكر شد كه طي مدت سپري شده سال جاري تعمير فارم جنگلات ولايت ننگرهار تعمير اداره زراعت ولايت ننگرهار ، احياي مجدد رياست پلان زون شرق، احياي مجدد تعمير كورس لسانهاي خارجي و عقندتي وزارت پلان به بهره برداري سپرده شده اند.

بقيه فرمان عاليقدر ...

خويش را انجام ميدهد و تنها به مقام امارت اسلامي گزارش خويش را تقديم مينمايد.

٢- در مورد گرفتاري قاضي مظنون ويا سائر پرسونل محكمه به اثر هدايت مقام امارت و يا مطابق هدايت از سوي ستره محكمه صورت مي گيرد و هيچكس ديگر حق ندارد كه آنرا توقيف ويا اذيت نمايد.

٣- ارگانهاي امنيتي وزارت امور داخله مكلفيت دارند كه امنيت محاكم و قضات را تامين نمايند فرمان فوق از تاريخ توشيح منظور است .

فرمان و تصويب ٤٢٤ مؤرخ ١٤٢٠/١١/٨ هـ ق و فتوا مؤرخ ١٤٢٠/١٠/٢٤هـ ق در جريده رسمي به نشر برسد. والسلام

خادم اسلام اميرالمؤمنين
ملا محمد عمر (مجاهد)

باتي: د منځني ختيځ ...

دغه هيواد به هغه سيمې چې دبيت المقدس په گاوند . كې دې فلسطينيانو ته ونه سپارل‌ده وويل نه غواړي چې خپل پوځونه دبيت المقدس له شاوخوا سيمونه وغواړي دفلسطين دخپلواكۍ اداري درئيس ياسر عرفات يوه سلاكار ويلي دي چې اسرائيل له فلسطينيانو سره د سازش نيت نه لري.

از قيام حماسه ...

نموده جنايات و مظالم سردمداران رژيم كمونستي كابل را كه بر اساس دستورات قصر نشينان كريملين صد ها تن ازمردم شريف كابل را به گلوله بستند ويه شهادت رسانيدند يكايك بر شمردند.

سخنرانان در اين محفل مقاومت وپايداري شهريان كابل راكه با خيزش عظيم عقيده و نيروي ايمان در برابر تانكها و تسليحات پيشرفته روسها و مزدوران آنان با دست هاي خالي به پاخاستند جزء افتخارات ملت مجاهدمان دانستند .

سخنرانان گفتند: خلقي ها و پرچمي هاي مزدور به دستور باداران خويش با به حركت در آوردن تانكهاي غول پيكر صدها تن از مؤمنين كابل را كه جز نعره هاي «الله اكبر» بيل ، چوب وسنگ حربه ديگري نداشتند به شهادت رسانيده و اما خشم توفنده و موجي از انزجار مردم نه تنها اينكه به خاموشي نه گراييد بلكه قصر نشينان كريملين را بيش از پيش به لرزه در آورد و عوامل بيشتر شكست ونابودي روسها را در افغانستان باعث گرديد.

در اين محفل همچنان ترانه هاي حماسي كه بيانگر احساسات آزاديخواهانه و پايمردي مردم قهرمان ما بر عليه اشغالگران ميباشد نيز خوانده شد.

باتي: د پاكستان د اسلامي ...

داسلامي جمهوريت لخوا ددغه هيواد دسرحدونو دچارو وزارت مرستيال ښاغلى جاويد اكرم او دمهاجرينو په چاروكى دملگروملتو د سازمان دعالي كمشنري لخوا دافغانستان دچارو مسئول ښاغلى احمد سعيد فره پكى شامل دي چاكل شويده تن دمهاجرينو دستونزو او مشكلاتو د څيړنې په مقصد داسلامي امارت له مقاماتو سره خبرى اترى وكړي او په هيواد كې دمهاجرينو د حالت د ښه والي لارى چارى ولټوي.

دكابل په نړيوال هوايى ډگر كې دغه هيات ته دشهيدانو او مهاجرينو دچارو وزارت معين محترم مولوى محمدصديق آخندزاده په اسلام آباد كې د مهاجرينو استازى محترم مولوى عبدالغفار قريشي دشهيدانو او مهاجرينو دچارو وزارت د بهرنيو اړيكو رئيس محترم مولوى محمد عالم او دبهرنيو چارو وزارت دتشريفاتو رياست مرستيال محترم داود شاه نيازى هر كلى ووايه .

دمهاجرينو دستونزو دحل كولو دلارو چارو دلټولو په لاره كې دافغانستان داسلامى امارت، دپاكستان د اسلامى جمهوريت او دمهاجرينو په چاروكى دملگرو ملتو د سازمان دعالي كمشنري دهياتونو په گډون ددري اړخيز كميسيون غونډې به درى ورځى دوام ومومي .

بقيه دشمنان نظام ...

ديگري زدند كه لله الحمد هيچگونه تلفات جاني را در پي نداشت. آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد :دشمنان مردم افغانستان و نظام اسلامي كه در آخرين روز هاي تجريد از ميان مردم قرار دارند و توان رويا رويي با مجاهدين اردوي اسلامي را ندارند با اشاره باداران خارجي خويش ويا طرح پلان ها و توطئه هاي استكبار جهاني مرتكب جنايات و جرم هاي بيشتر گرديده كه ميخواهند از اينطريق فضاي صلح و امنيت را مخدوش معرفي نمايند و با استفاده ناروا از فرصت با باعث آزار و اذيت مردم ميشوند ويا اينكه با كار گذاري ماينها و اعمال تخريبي در تاسيسات عام المنفعه سبب كسب رضايت باداران خويش ميشوند كه شام ديروز نيز در ادامه انجام اعمال تخريبي شان در حومه ميدان هوايي كابل ميخواستند تا طياره هايي را كه متعلق به بيت المال و ملت افغانستان ميباشند تخريب نمايند كه لله الحمد در نتيجه اين عمل جنايتبار اندازه تخريب درساحه متذكره خيلي ناچيز بوده و صرفاً يك فروند طياره كه در محل توقف داشت قسماً تخريب گرديده است و تلفات جاني را در پي نداشته است . اين حادثه تحت بررسي و تعقيب جدي مسولين امنيتي قرار دارد.

د گڼون بيه له هيواد نه بهر

ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

تبصره

سازمان ملل متحد بايد بيطرفي خود را حفظ نمايد

اخيراً آقاي كوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد محض با شنيدن راپوري كه از جانب مخالفين ا.ا.ا ترتيب يافته و در آن از بمباردمان پنجشير و كشتار چند تن از مردم محل ياد آوري گرديده بود بدون اينكه انتظار بكشد آيا به راستي چنين واقعه اي صورت گرفته يا خير؟ و قبل از تائيد خبر مذكور توسط منابع آزاد و بيطرف، لب به شكوه و شكايه از ا.ا.ا گشوده و امارت اسلامي افغانستان را در رابطه به اصطلاح به كشتار مردم محلي متهم نموده است .

اگر چه عاليقدر امير المؤمنين در جواب به اين قضاوت غير واقعبينانه و جانبدارانه كوفي عنان طي پيامي موصوف را به حفظ بيطرفي سازمان ملل متحد توصيه نموده و از اوشان خواسته است تا بعد از دريافت حقايق و واقعيت ها تصميم و فيصله خويش را اعلام نمايد لازم به ياد آوري ميدانيم تا اندكي در رابطه به چشم پوشي هاي غير منصفانه آقاي كوفي عنان از واقعات و حادثات واقعاً دلخراش در بعضي از كشور هاي جهان روشني انداخته و آقاي سرمنشي را متوجه آن سازيم تا هرگاه تصميم بر آن داشت كه اداي مسؤوليت نمايد در پهلوي اظهارات غير واقعبينانه خويش كه مجبوراً جهت حفظ مقام و كرسي خود لب به اظهار آن مي گشايد اندكي واقعيت ها را نيز در نظر گرفته و از طريق آن برستيژ و حيثيت سازمان ملل را نيز تا اندازه اي حفظ و احترام نمايد. همين اكنون كه هر لحظه ده ها طياره و ده ها توپ و تانك روسي بر مردم غير نظامي و بيدفاع چيچن آتش مي ريزد و همه جهانيان به واقعيت چنين جنايت نابخشودني از جانب روسها شهادت نيز مي دهند چه موجب شده تا آقاي كوفي عنان بر اظهار حتي گلايه و شكوه از مقامات روسي لب نه گشوده و نه از كشته شدن هزاران تن مردم مظلوم چيچن چيزي ياد آوري مينمايد ؟ عجب منطق وانصاف است در سياسيون عصر حاضر كه در يك كشور بر مرگ و تباهي هزاران تن بيگناه حتي خمي بر ابرو نمي آورند مگر در جاي ديگر در مقابل شنيدن راپور هاي تائيد ناشده و كاذب اشك تمساح بر حال به اصطلاح مردم مظلوم ريخته و خود را غم شريك آنها مي پندارد ؟

بر علاوه مردم چيچن،آيا آقاي كوفي عنان از بمباردمان مناطق جنوب لبنان توسط اردوي اسرائيل اطلاعي ندارد ؟ آيا او واقف نميگردد كه هر روز ده ها تن از ساكنان محلات مسكوني جنوب لبنان در آتش طيارات و توپچي قواي بيرحم اسرائيل جانهاي شانرا از دست ميدهند؟ و آيا آقاي عنان هيچ نشنيده كه اشغالگران هندي زنان ، اطفال پيرمردان و غيره اهالي مظلوم كشمير را يكسره مورد اصابت مرمي ها و بمب ها قرار ميدهد ؟ اگر آقاي سرمنشي ملل متحد از وقوع چنين حادثات جانگداز آگاهي ندارد پس جاي بست تعجب است كه موصوف خبر تائيد نا شده به اصطلاح بمباردمان پنجشير را شنود و اخبار متواتر جنايات در چيچن ، لبنان و كشمير را نه مي شنود ؟ و اگر آقاي كوفي عنان اخبار پي در پي مظالم و وحشيگري هاي روسها اسرائيل وهند را كه از طريق رسانه هاي خبري جهان شب و روز بدست نشر سپرده مي شود شنيده است . پس چگونه انصاف و قضاوت است كه آنجا در برابر كشتار هزاران تن هيچ تكاني نميخورد و اين جا محض با شنيدن را پور دروغين چشم كشيده و اتهام مي بندد ؟ شايد آقاي كوفي عنان نزد خود دلايلي مرموزي داشته باشد كه اظهار آن را براي مقام وحيثيت خود لازم نمي بيند و توانايي آنرا ندارد تا حقايق را پذيرفته و در برابر دروغ پراگني ها به تجسس و كسب حقايق بپردازد اما از اينكه آقاي كوفي عنان يك شخصيت عادي نبوده و رئيس سازمان جهاني مي باشد كه ادعاي بيطرفي و واقعيت پسندي داشته و خود را حامي حقوق و ارزشهاي والاي انساني در جهان مي داند پس لازم است تا آقاي مذكور حيثيت و مقام شخص خود را كه خيلي كمتر از حيثيت سازمان ملل متحد است نظر به حيثيت اين سازمان جهاني بر تر نشمرده و به اقداماتي متوصل نگردد تا حيثيت سازمان جهاني ملل متحد بيش از اين خدشه دار گردد .

آقاي سرمنشي سازمان ملل متحد بايد بيطرفي كامل مقام خود را حفظ نموده و در قبال تمام مسايل قضاوت عادلانه را عمل خويش سازد ، بر مبناي اكاذيب و تبليغات تائيد نا شده از صدور فيصله ها اجتناب ورزد و انسان را به معني واقعي آن در همه اطراف و اكناف جهان قابل احترام پنداشته و از زندگي حيثيت و عزت وي حمايت و جانبداري نمايد در غير آن شايد نه خود نام نيك كمايي خواهد كرد و نه براي سازمان ملل متحد حيثيت و مقامي باقي خواهد ماند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press